لومړۍ برخه

# دهند د پنجاب پټیالې پوهنتون

## چې ۷۰ افغاني ځوان (PhD) ډاکتران په کې پرعلمي زده کړو


## او څیړنو بوخت دي

ع : رشید





په دې ورستیو ورځو ( د ۲۰۲۴کال د اپریل له  ۱۵ تر ۲۰ نیټې) مې دهندوستان د پنجاب  پټیالې پوهنتون ته یو اکاډیمیک سفردرلود، اصلي موخه مې دا ځوکاله  په زړه کې داوه چې د هغه پوهنتون په کتابتون کې د هند د نامتو تاریخ لیکونکي ډاکټر ګنډاسینګ کتابي آثار، خطي یادښتونه او نورې لیکنې وګورم. ګنډاسینګ دهرافغان لوستي له پاره د خپل نامتو تحقیق (دراني احمدشاه) له امله هم آشنا اوه م د درناوي وړلیکوال اومورخ دی، دخپل عمرپه اوږدو کې یې ډیرآثارپه فارسي، اردو اوپنجابي ژبوکې راټول کړي دي چې یو زیات شمیرېې په قلمي بڼه اوس هم دپټیالې پوهنتون د کتابخانې په هغه برخه کې چې د ډاکټر ګنډاسینګ په نامه نومول شوې ده خوندي دي، په دغو آثارو کې د شپیتو او اویاوو په شمیر فارسي  قلمي نسخې هم شته چې  زیات شمیرېې دهند په تیره بیا د پنجاب پرسیمه ییزو مسایلو او واکمنیو برسیره د هند، پښتونخوا او انګریزانو پر  دوره پورې اړوندې دي، شپږجلده هغه  قلمي یادښتونه او لیکونه دي چې په انګریزي ژبه لیکل شوي چې څلور ټوکه یې د نولسمې پیړۍ په وروستۍ نیمایي او شلمې پیړۍ پورې اړه لري او داسې ښکاري چې د دغو لیکنو او یادښتونو اصلي ژبه فارسي او نورې ژبې وې  خومحتواې تاریخ دی اوټوله په افغاني تاریخ په تیره بیا په دراني دوره پورې اړه  لري، دغه یادښتونه ټول  ډاکټر ګنډاسینګ په خپله په انګریزي را ژباړلي اوپه خپل لیک یې لیکلي  قلمي بڼه په دغه کتابتون کې دخپل ویاړلي میراث په توګه پریښي دي. په لاندې انځورکې د دغو یادښتونو دوې بیلګې چې د پاني پت د ګډون کونکومشرانویادونه په کې شوې لوستلای شو، دادهغو شپږو ټوکو یوه بیلګه ده لکه چې مایې دمخه یادونه وکړه چې کیدای شي  پر موضوع یې په تفصیل سره بل وخت خبرې ولرو.



should join us at this time so that we can get great things done from him. Similarly Farrukhabadwala also. With respects


Letter 203 15-6-1760

With respects to Govind Ballal from Sadashiv Chimaji. Received your letter & noted the contents. You will know the detailed news on this side in my former letter. Sujat-ud-daula met Najibkhan & Jahan Khan. He should clearly take leave of them and come to us as agreed. Saldars will meet us within 2 or 3 days. Gangoba has come. After he sees us we shall make proper arrangements. Negotiations are going on & the result will be informed to you when it is available. With respects etc

Letter no 204 19-6-1760

With respects to Govind Ballal. You wrote in 2 or 3 supplementary letters news about Sujat-ud-daula. The main thing is that due to Najibkhan he will join Abdali. But still the matter is open. While he was writing to us that he was ready to join us when we came near it is strange that he should behave like this when we have actually come near.

لکه چې یادونه وشوه د دغو آثارو زیاته برخه په فارسي او اردو ژبو کې ده چې د دراني دورې په اړه ډېرخه په جزیاتو سره سرې په کې لیدای اولوستلای شي. دا چې ما زیات وخت اواړینه شونتیا نه درلوده ومې نه شوای کولای چې ډېرخه ترې کاپی کړم ، یوه رساله چې ډېره جالبه اونادره راته معلومه شوه هغه د دیره اسماعیل خان د دراني مشرانو ( شیرمحمدخان، دین محمدخان ولد آزادخان انساب روسای دیره اسمعیل خان ) په اړه وه اومې کولای شول چې کاپي یې کړم، چې لومړی پاڼه په لاندې انځور کې ګران لوستونکي هم لیدای شی. چې په راتلونکې به یې په جزیاتو باندې د موضوع د مینه والو تنده ماته شي.




د انساب روسای دیره اسمعیل خان لومړی مخ ( په فارسي ژبه)

## د پټیالې پوهنتون :



د پټیالې پوهنتون دپنجاب په کچه دهندوستان له لویو پوهنتونوڅخه شمیرل کیږي، چې دپټیالې په تاریخي ښارکې دنګ ولاړدی،په زرګونو هندي او پنجابي زده کونکي په زده کړو په کې بوخت دي، دلته په هندي زده کونکوبرسیره د باندنیو هیوادونو په تیره بیا افغانستان، ایران او افریقایی هیوادونو زده کونکي هم درس وایي، ما ددغه پوهنتون له رییس پروفیسورداکتر اروینند .Dr) (Arvindسره چې یوعالم اوپرپوهه مین استاد دی اوپه خپله هم د استادۍ علمي تجربې لري د اپریل په ١٦ نیټه د ده په دفترکې وکتل،ځکه چې ده زما غوښتنې ته په ورین تندي ځواب راکړی واوږدې خبرې درلودې اودخپل پوهنتون د برياوو په اړه یې مفصل معلومات راسره شریک کړل،ما دغه پوهنتون په ٢٠٠٠ میلادي کال کې هم لیدلی و، خواوس چې کوم پرمختګونه په کې لیدل کیدل، هغو په رښتیاهم دیوې اوږدې ودې اوپرمختګ کیسه له خان سره درلوده. زموږ دبحث په موضوعاتو کې یوه هم د پنجابي نامتولیکوال اومورخ ډاکترګنډا سینګ یادونه وه ، په دغه اړه ما د ارواښاد ګنډا سینګ د علمي کارونو او په تیره بیا د ده د نامتو اثرپه اړه چې د لوی احمدشاه بابا په باب یې لیکلی دی،یادونه وکړه اوددغه اثرپه ځانګړي اهمیت مې دافغاني لیدلوري له څنډې رڼا واچوله چې دده له پاره په رښتیا هم جالبه وه، داکتراروینند وویل چې موږ هرکال د ګنډا سینګ په نامه یو لکچر نیسو، خو ما ورته وویل چې دغه لوی لیکوال د خپل علمي او تاریخي رسالت او صلاحیت له مخې هر کال د یوه لوی نړیوال سمینار لایق دی، د ده په اړه باید یو نړیوال سمینار جوړ کړئ، ده زما وړاندیز په دقت سره واورید او په ورین تندي سره ومانه او د تاریخ څانګې له مشرې یې هیله وکړه چې راتلونکی ژمي کې باید دغه سمینار جوړ کړل شي.



د پټیالې پوهنتون مشر او ع . رشید  د پوهنتون د ریاست په دفترکې

## په تاریخ څانګه کې لیکچر:

د اپریل په ۱۷ نیټه د سهارپه لسو بجو دتاریخ څانګې له مشرې پروفیسورې سندیپ کور، د تاریخ د څانګې د استادانو پروفیسور ادریس صاحب او نورو په ګډون د څانګې یوه تالار ته چې هلته دتاریخ څانګې د بیلابیلو برخو لیسانس ، ماستري او پي اچ ډي  ترسلو زیات زده کونکي راټول شوي ول لارښونه شوم، د څانګې مشرې یوه ورځ مخکې راته ویلي ووچې د هند او افغانستان په تاریخي اړیکو او هم د ډاکتر ګنډاسینګ د کتاب احمدشاه دراني په اړه خبرې وکړم ، زده کونکو په ډیره لیوالتیا سره زما خبرې دهند او افغانستان دتاریخي اړیکو او همداسې دګنډا سینګ داثرپه اړه واوریدې ، سوالونه هم وشول، استادانوهم خپل نظرونه وویل اوله دوو ساعتو وروسته  زموږ غونډه پای ته ورسیده، د زده کونکو له لیوالتیا څخه داسې ښکاریده چې دوی دهند د تجزیې سره هیڅ ډول مینه نه درلوده او پردې باور وو چې هند او افغانستان باید بیرته په خپلو تاریخي سرحدونو باندې سره ودریږي او هغه تش په نامه هیواد چې انګریزانو د خپلو غرضو په خاطر جوړ کړی او زموږ طبعي جغرافیایې سره ګډه وډه کړې باید د یوې ګډې مبارزې په  زور له منځه یووړل شي، دغه ځوان نسل داسې فکر  کوي چې لوی پنجاب باید خپله لویي بیرته ترلاسه کړي او همداسې پښتانه او بلوڅ باید خپلو خپلواکو برخلیکونو ته ورسیږي. د تاریخ څآنګې دغه نږدې دوو سوو ګډون والو ته دا هم په زړه پورې وه چې د  دوی د تاریخ شخصیت ډاکتر ګنډاسینګ تحقیق د افغاني پوهانو په وړاندې د ځانګړې تاریخي اهمیت لرونکی اثر دی. د غونډې په پای کې د تاریخ څآنګې مشرې او یوه استاد پروفیسور ادریس صاحب هم د هند او افغانستان په اړه خپل خبرې او پوښتنې له ما سره شریکې کړې.

د پټیالې پوهنتون دخارجي محصلینوله مشرې ډاکترې رنجیت کور سره کتنه




## ډاکتره رنجیت کورد بهرنیو زده کونکود څانګې مشره


د پټیالې پوهنتون د رییس سره مې په خبروکې د افغان محصلینو او د هغوی د علمي کارونو په اړه وپوښتل، هغه په دغه اړه راته وویل چې : موږ ته د افغانستان اوسني حالت ډیرښه معلوم دی، ستاسې د ځوانانو پر ستونزو په تیره بیا هغوی چې دلته په هندوستان او په تیره بیا زموږ په پوهنتون کې زده کړې کوي، له هغوی سره د خپلې راتلونکې په اړه اندیښنې شته دي، د هغو په وړاندې له خپلو کورنیو څخه لرې والی په تیره بیا چې د هندوستان د حکومت له خوا د ویزې ستونزه رامنځ ته شوې ده په خپل یو مهم اصل دی، خوله دې ټولو سره بیاهم موږ هڅه کوو چې د دوی له پاره په خپل پوهنتون کې علمي اسانتیاوې برابرې کړو، باوري یم چې دوی په ډاډه زړه خپل علمي کارونه او څیړنې په ښه توګه ترسره او پای ته ورسوي، د پوهنتون مشر، د خارجی محصلینو د څانګې مشره او د انجینري پوهنځي استاد پروفیسوره رنجیت کور راوغوښته او ویی ویل چې زیات معلومات به دا درکړي، او هیله ده چې دا به له افغان محصلینو سره ستاد لیدو هڅه هم وکړي.

په پیل کې یې خوښي څرګنده کړه چې زه دلته راغلی یم اوبیا د خپلو محصلینو د ژوند او علمي بوختیاوو په اړه خبرې سره کوو، نومووړې پروفیسورې وویل، افغان محصلین په خورا ښه روحیه دلته په خپلو زده کړو بوخت دی، سره له دې چې ستونزې شته خو موږ هڅه کوو چې د دوی د ستونزو په حل کې له دوی سره مرستې وکړو، له موږ سره چې کوم افغان زده کونکي لوړې زده کړې کوي د هغوی اکثریت برخه په خپلو دکتوري څیړنو بوخت دي، په هربرخه کې یې د لارښودو استادانو او ځانګړو څانګو له خوا لارښونه کیږي، زه ددغې برخې د مسوولې په توګه هڅه کوم چې تل د دوی له




د پټیالې پوهنتون انجنیري پوهنځی

ستونزو څخه ځان خبرکړم، او زه په ټوله کې د افغان محصلینو له کارونو او د پوهنتوني دسپلین په نظر کې نیولو څخه ډاډمنه او راضي یم په تیره د دوی له نجونو څخه چې د خپل هیواد په دغو سختو شرایطو کې بیاهم خپل هیواد راتلونکې ته په جدي توګه کار کوي، ځیرنې کوي او په یوه ژوندۍ روحیه موږ ته دافغانستان د ښیرازه ټولنې پیغام را رسوي. افغان محصلین زموږ په پوهنتون کې درس وایي دوی ټول د هند د حکومت سکالرشیفي امتیاز لري. د استادې کور وړاندیز و چې دا به افغان محصلین په یوه تالار کې راټول کړي او زه به له دی سره خپله مخامخ خبرې وکړم او د دوی له اندیښنوبه خپله د دوی له لورې خبر شم . په ماښام یې یو شمیر محصلینو چې زما په راتګ خبر شوي ول، د دغه ناستي له امله چې په لاندې لیک یې د خارجی محصلینو له اداري څخه خپور شوی و، خوښي څرګنده کړه.



Dean of International Affairs
PUNJABI UNIVERSITY, PATIALA

ਡੀਨ, ਇੰਟਰਨੈਸ਼ਨਲ ਅਫੇਅਰਜ਼
ਪੰਜਾਬੀ ਯੂਨੀਵਰਸਿਟੀ, ਪਟਿਆਲਾ

No. 1464 /DIA
Date 16.4.2024

NOTICE

This is for the Information of all Afghanistan students studying in Punjabi University, Patiala that the Prof. A. K. Rashid (Pashto Department) in Jawaharlal Nehru University, New Delhi is on visit at Punjabi University, Patiala. He wants to meet the all Afghanistan students to discuss the some issues of Afghanistan students. So, All Afghanistan students are required to be come on 18/04/2024 at 3:30 P.M in Engineering Building Room no 103-104 (1st floor). It is compulsory for all the Afghanistan students to attend the meeting.

Dean,
Directorate of International Affairs

پاتې له محصلینوسره کتنه په بله برخه کې

www.dawatmedia24.com